EUROPEAN UNION

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

څېړنه د به افغانستان لپاره

سلواغه ۱۳۹۸ ډاکټر انتونيو ګستوزي

# آيا د افغانستان دولت د کوچيانو او ځايي اوسيدونکو ترمينځ په شخړه کې په بريالي ډول لاسوهنه کولای شي؟

## سريزه

د کوچيانو او ځايي اوسيدونکو ترمينځ شخړه اوس د هزاره جات څو ولسواليو پورې محدوده پاتې نه ده. دا شخړه د هيواد ډيرې څنډو ته خپره شوې ده او ډيری پښتانه کوچيان د هزارو، تاجکو او پښتنو ځايي اوسيدونکو پرخلاف لمسوي. دا شخړه يوازې د ځايي سيمو د خلکو شخړه نه ده بلکې د زورواکو، ګوندونو او سياسي رهبرانو په شخړه بدله شوې ده. د يادې شخړې د خپريدو امکان له هر بل وخته لا ډير دی.

په افغانستان کې د کوچيانو او ځايي اوسيدونکو ترمنځ مخ په زياتيدونکې شخړه بايد حل شي، خو آيا د افغانستان دولت د دې وړتيا او دريځ لري چې په شخړه کې لاسوهنه وکړي او مثبته اغيزه ولري؟ د افغان دولت وړتيا اوس خورا محدوده ده او حتی په بشپړ ډول نشي کولای له جګړې ځخه څارنه وکړي. ان کله چې د افغانستان دولت د شخړې اداره کولو هڅه کوي، بيا هم دا چاره په ناقص ډول ترسره کوي- دبيلګې په توګه دا وضعيت د کوچيانو ميشتيدنې د پروژو، په يوې قضيې کې ليدل کيږي.

دا پوښتنه هم رامنځته کيږي چې آيا په شخړه کې د دولت لاسوهنه تل بې پرې ده که نه؟ او آيا په شخړه کې د دولت د لاسوهنې نور بديلونه شته؟ که بديلونه يې نشته، نو د شخړې د زياتيدو احتمالي پايلې به څه وي؟

د پاليسۍ يادداښت دا مسله څيړي او د دې موضوع په اړوند، د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري د يو شمير نورو خورا تفصيلي پخوانيو سندونو لنډيز وړاندې کوي، او د راتلونکې پلې کيدو لپاره يې، د پاليسۍ اړوند ځينې وړانديزونه مطرح کوي. (د همدې ليکوال لخوا) د موضوع اړوند چمتو شوي سندونه په لاندې ډول دي:

- ,,په افغانستان کې د کوچيانو او بزګرو د شخړې نقشه کوونه، کابل: AREU ، ۲۰۱۷ کال
- ,په افغانستان کې د کوچيانو او ځايي اوسيدونکو د شخړو د ډولونو پيژندنه، کابل: AREU ، ۲۰۱۸ کال
- ,د کوچيتوب او کوچيانو او ځايي اوسيدونکو ترمنځ د شخړې په مديريت کې د افغان دولت ونډه، ، کابل: AREU ، ۲۰۱۸ کال
- ,په افغانستان کې د کوچيانو ميشتيدنې بهيرونه او پر شخړه يې اغيزه، کابل: AREU، ۲۰۱۹ کال
- ,نن ورځ په افغانستان کې د کوچيانو او ځايي اوسيدونکو شخړه، کابل: AREU، ۲۰۱۹ کال

## څېړندود

پاليسۍ دغه يادداښت د ساحوي کار په پايله کې چمتو شوی چې په کې د کوچيانو او ځايي اوسيدونکو له مشرانو، حکومتي چارواکو، سياسي څيرو، شنونکو، منځګړيو او نورو سره ۹۸ مرکې شاملې دي.

دغه مرکې د ۲۰۱۷ او ۲۰۱۹ کلونو په ترځ کې په کابل، باميانو، فراه، غزنی، کابل، خوست، کندز، لوګر او وردګو ولايتونو کې ترسره شوې دي.

په ۲۰۱۷ ميلادي کال کې په ساحوي کار کې د ولسواليو په کچه د شخړې لومړنيو آتو قضيو څيړنې شاملې وې، وروسته بيا په ۲۰۱۷ او ۲۰۱۸ ميلادي کلونو کې له مشرانو او دولتي چارواکو سره لومړنۍ څارنيزې څيړنيزې مرکې ترسره شوې. په تعقيب يې، په ۲۰۱۹ کال کې د کوچيانو د ميشت ځايونو د څلورو قضيو څيړنې وشوې، چې له هغې وروسته سمدلاسه ځينې نورې تعقيبي څيړنيزې مرکې ترسره شوې.

په عمومي ډول، ساحوي کار د کوچيانو او ځايي اوسيدونکو شخړو او د شخړو په مديريت کې د افغانستان دولت د ښکيلتيا په اړه خورا هراړخيز انځور وړاندې کړ. دا ممکنه وه چې د ځايي شخړو، د خبرو اترو منځګړيتوب او د کوچيانو ميشتيدنې دودولو په اړه د معلوماتو راټولولو په مرسته دا معلوماتي انځور چمتو شي، که څه هم دا د څيړنې له توانه وتلې خبره وه چې د کوچيانو او ځايي اوسيدونکو ترمنځ ټولې ځايي شخړې په هراړخيز ډول نقشه کړي.

## اړينې موندنې

په داسې حال کې چې د کوچيانو او ځايي اوسيدونکو ترمنځ اختلاف له جګړې دمخه راپورته شوی، خو له شک پرته چې د کوچيانو او ځايي اوسيدونکو ترمنځ شخړه په ۱۹۹۰ کلونو کې په ډراماتيک ډول مخ په زياتيدو شوه او بيا له ۲۰۰۱ کال وروسته هم په لويه کچه بيا پيل شوه.

**د شته ، نيمه او ميشتو کوچيانو ترمنځ شخړې په لوړه کچه شتون لري**

د کوچيانو رياست اټکل کوي چې کابو ۴۵ سلنه شته، نيمه او ميشت کوچيان په يو ډول شخړه کې ښکيل دي. له دې جملې څخه شاوخوا ۲۰ سلنه فعاله کوچيان له نورو فعالو کوچيانو سره په شخړو کې ښکيل دي ، ۲۰ -۷۰ سلنه فعاله کوچيان له ځايي اوسيدونکو سره او ۱۰ – ۲۰ فعاله کوچيان له ځايي کوچيانو سره په شخړو کې دي.

**د کوچيانو ميشتيدنه په خپله د شخړې کچه نه راټيټوي، بلکې يوازې يې ماهيت بدلوي**

د کوچيانو په وړاندې د پاکستان پولو بندول او په بهسودو کې د هزاره جاتو دروازو تړل ګڼ شمير کوچيان دې ته اړ کړل چې د بديل لارو په لټه کې شي، چې په پايله کې يې له نورو ځايي اوسيدونکو سره شخړو ته مخه کړې، له هغو ټولنې سره چې مخکې له دغو شخړو خونديي ول.

په پراخه کچه له دولتي مديريت پرته، د کوچيانو ميشتيدنې بهير هم له ځايي خلکو او همدا راز د ميشتو کوچيانو او نورو ترمنځ نوې شخړې رامنځته کړې کوم چې خپل کډوالۍ ته دوام ورکوي. د کوچيانو چارو د سمون رياست ترټولو وروستي آټکلي شميرنې دا وايي چې ښايي په ۲۰۱۹ ميلادي کال کې په هيواد کې له ۴،۵ نه تر ۵ ميلونه پورې سوچه کوچيان، نيمه کوچيان او ميشت کوچيان شتون ولري. له دې ټولګې څخه شاوخوا ۱۵۰ نه تر ۲۲۰ زره يې نيمه کوچيان دي حال دا چې سوچه کوچيتوب نن سبا په بشپړه توګه له منځه تللی دی. په حيرانتيا سره، شخړه ډيره شوې ده. دا په ځرګنده توګه ښيي چې ميشتيدنه په خپله د شخړې کچه نه راټيټوي، بلکې يوازې يې ماهيت بدلوي.

**د کوچيانو او ځايي اوسيدونکو ترمنځ د سولې منځګړيتوب په موخه په ۲۰۰۷ ميلادي کال کې د کوچيانو چارو د سمون رياست رامنځته کيدل اغيزمن نه وو**

افغان چارواکو په ټول افغانستان کې د کوچيانو او بزګرو د شخړو زياتوالی په بشپړ ډول په پامه نه دی غورځولای. دوی له ځينو لارو د لاسوهنې هڅه کړې ده. په ۲۰۰۷ ميلادي کال کې دولتي چارواکو د کوچيانو چارو د سمون لوی رياست رامنځته کړ چې دنده يې د کوچيانو اړوندو چارو څارنه او د هرراز شخړو په اړه ځايي چارواکو ته راپور ورکول وو. نوموړي رياست ته د کوچيانو د ستونزو د حل په موخه د اوږدمهالو حل لارو د موندنې لپاره هم دنده سپارل شوې ده. ياد چارواکو په يو شمير سيمه ييزو شخړو کې د سولې لپاره د منځګړيتوب هڅه کړې ده. په پايله کې، دوی د کوچيانو د ميشتيدنې پروګرامونه تمويل او يا پلان کړي دي.

په هر حال، دا ټولې هڅې يوه ګډه وجه لري: له دغو هڅو څخه، يوه يې هم په اغيزمن ډول ترسره شوې نه ده. د ميشتيدنې په پروګرامونو کې د دولت ډيره لږه ونډه تر سترګو شوی، په استثنايي ډول په ځينو مواردو کې هغه هم برخوال کوچيانو ته د ځمکو د ملکيت سندونو د ويش پر مهال. دا چارې، پانګه والو او / يا زورواکو ته دا فرصت چمتو کړ ترڅو خپل ځان په نوموړي بهير کې ښکيل کړي. د چارواکو لخوا د شخړې ښکيلو خواوو ترمنځ خبرو اترو لپاره هڅې هيڅکله هم ګټورې پايلې نه درلودلې. د شخړو لاملونو د رفع کولو لپاره د پلانونو ترتيب هڅې هيڅکله هم د لومړنۍ مسودې له پړاو څخه بريالۍ نه دي تيرې شوې.

**د سرچينو نشتوالی ، کمزوره ورتيا او نويو ميشت ځايونو ته د لومړنيو خدماتو محدود چمتو کول د دولت مشروعيت په ناوړه توګه اغيزمن کړی دی.**

څه نا څه، د دولتي لاسوهنو نااغيزمنتوب د سرچينو د کموالي له امله و. له بده مرغه، په ځانګړې توګه د کوچيانو چارو د سمون رياست لږې مالي سرچينې لري نوځکه د ټرانسپورټ لپاره پر نورو ادارو تکيه کوي. روانه جګړه هم ګټوره نه وه ، ځکه چې ډيری سيمو ته يې د لاسرسي محدوديت رامنځته کړی دی. لکه څنګه چې په حقيقت کې په هرې دولتي اداري کې د کمزوري ورتيا او اداري فساد يوه لويه ستونزه شتون لري، چې يا واقعيت لري او يا هم شتون يې احساسيږي. مرکه کوونکو ډير ځلې د حکومتي چارواکو د کمزورتيا يا نه ناليوالتيا په اړه شکايت کړی چې ګواکې دوی حتی د دولتي ميشتيدنې پروګرامونو کې هم کوچيانو ته د ملکيت سندونه (قبالې) نه صادروي. عامه خدمتونه لکه ښوونځي ، کلينيکونه او نورې اسانتياوې نويو ميشت ځايونو ته که چيرې چمتو هم شي، ډير ناوخته برابريږي. دغه ځنډونه او بې کفايتي د دولت مشروعيت هم کمزوره کوي.

**د نه اغيزناکو دولتي لاسوهنو له امله، غير دولتي نوښتونه رامنځته شوي دي، خو حتی دا نوښتونه هم د کوچيانو او ځايي اوسيدونکو ترمنځ د شخړو په اوارولو کې ډير لږ بريالي ول.**

د دولتي اغيزناکې لاسوهنې په نشتون کې، د افغانستان ټولنه د کوچيانو او بزګرو منځ د شخړو مديريت لپاره د حل لارو په لټه کې شول. په داسې حال کې چې دغو نادولتي بديلونو په ځينو قضيو کې يو څه ستونزه حل کړې، خو بيا ترهم داسې برېښي چې دغه بديلونه يادې شخړې نه شي اوارولای.

- کوچيانو د کډوالۍ لارې بدلې کړې ترڅو د نه حليدونکو شخړو مخه ونيسي ، خو د کډوالۍ په نويو مسيرونو کې له نورو ځايي اوسيدونکو سره په نورو سيمو کې نوې شخړې رامنځته کړې.
- د شخړو حل لپاره، نادولتي منځګړيتوب په پراخه کچه کارول شوی دی چې ډيری وختونه تر يوه بريده بريالی هم وو. په دا راز منځګړيتوب کې معمولاً د ګاونډيو سيمو مشران يا ديني عالمان برخه لري. مګر يوازې يو لږ شمېر شخړو، بريالي نادولتي منځګړيتوب تجربه کړی، او کله هم چې نادولتي منځګړيتوب ترسره شوی، هغه هم يوازې د لنډمهال لپاره او يا هم تر يوې کچې پورې بريالۍ حل لاره پاتې شوې.
- کوچيانو ، پرته له دې چې د دولت ميشتيدنې مناسبو خپرونو ته انتظار وباسي، ميشتيدنې ته مخه کړې ده. دا چاره په پراخه کچه د ځمکو غصب لامل شوې چې ډير ځلې يې نوې شخړې رامنځته کړې دي. په ګڼ شمير قضيو کې، کوچيان په ښارونو کې ميشت شوي چې ډيری يې د ښار په بې وزلو څنډو کې اوسيږي.

**د کوچيانو او ځايي اوسيدونکو ترمنځ شخړه ښايي له مناسب دولتي لاسوهنې پرته حل نشي**

نو ځکه يقيني برېښي چې له يو ډول دولتي لاسوهنې پرته، د کوچيانو او ځايي اوسيدونکو ترمنځ شخړې ښايي حل نشي. د يادو شخړو بڼه ښايي بدله شي، ځکه چې کوچيانو به ورو ورو ورک شي او دوی به د پخوانيو کوچيانو په توګه د ځمکو په غاصبينو بدل شي. مګر دا ستونزه به لاهم د يوې

شخړې په توګه دوام ومومي، او حتی ښايي نور هم په خورا تاوتریخجنې او بې ثباته کوونکې ښکارندې (پدیدې) بدله شي.

دا روښانه ده چې د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو شخړه د افغان چارواکو لپاره لوړ لومړیتوب نه ګڼل کیږي ،ځکه چې دوی ډیری نورې ستونزې هم لري ، تر ټولو لومړی بې د دښمنانو پر خلاف جګړه کول دي. مګر په ښکاره ډول د شخړې زیاتوالی، د دولت د مشروعیت په کمزوري کولو کې مرسته کوي. په داسې حال کې چې د دولتي فعالیتونو له لومړیتوب لرونکو چارو څخه سرچینې نورو چارو ته ځانګړې کول ښايي په رښتیا سره ستونزمن یا ناشوني وي، خو د افغانستان دولت لپاره داسې نورې لارې شته چې پرته له دې چې د کوچیانو چارو سمون لپاره تخصیص شوې سرچینې ډیرې کړي، لا ډیر کار ترسره کړي.

## وړاندیزونه

تر یوه حده، افغان چارواکي په دې ریښتیا پوه شوي چې دوی د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو تر منځ د خپریدونکې شخړې د حل یا مدیریت توان نلري.

**افغان چارواکي دا اغیزمن ګڼي چې له ځایی مشرانو سره کار وکړي ترڅو د کوچیانو او ځایي خلکو ترمنځ شخړه حل او مدیریت کړي او پرې بې نږدی چې نورو سیمو ته خپره شي**

د بیلګې په توګه کله چې دوی د خبرو اترو په ځینو هڅو کې برخه اخلي، اوس دا یو معیاري کړندود دی چې د کار د ډیرې برخې د ترسره کولو لپاره پر سیمه ییزو مشرانو تکیه وشي، حال دا چې د کوچیانو چارو سمون ریاست یا نورې ځانګې په دې برخه کې یوازې ملاتړی ونډه لوبوي. دا چاره د افغان چارواکو لپاره ناامنو سیمو ته د لاسرسي په شمول یو شمیر ستونزې حلوي. دا کړندود لوړ لګښت هم نلري: په ځانګړې ډول، دغه نادولتي منځګړې یوازې د ټرانسپورټي لګښت او ورځنی عادي سفر خرڅ لپاره یو څه مرستې غواړي. د چارواکو لخوا د میشتیدنې خپرونو قراردادونه ډیری کوچې زورواکو ته ورکول شوي، که څه هم دا چاره ښايي خورا لږه د پالیسۍ جوړونې پورې اړوند وي،خو تر ډیره بریده د څواک له سیاست سره تړاو لري.

ګڼ شمیر دولتي او نادولتي لوبغاړي لکه مشران ،له همدې امله، په غیر رسمي ډول خو نه تل له ښو لارو وار دمخه سره یوځای شوي. د اغیزمنتوب زیاتوالي، د همکارۍ د جلبولو او د افغان چارواکو د موخو پوره کولو په موخه، د دې اړیکې په رسمي کولو او بیا تنظیمولو سره به ډیر څه ترلاسه شي.

**افغان چارواکي باید د حکومت څخه بهر وړ او وړتیا لرونکي لوبغاړي په دې چاره کې ښکیل کړي ترڅو د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو تر منځ د شخړې منځګړیتوب وکړي، مګر یوازې پر دوی تکیه ونکړي**

د افغانستان په حکومتدارۍ او د خدماتو په وړاندې کولو کې، قرارداد ورکول کومه نوې طرحه نه ده. په عمومي ډول، قرارداد ورکول د روغتیایي خدماتو په وړاندې کولو کې ډیر ګټور تمام شوی دی خو په خورا لوړ لګښت سره. قرارداد ورکول په ځانګړې توګه د تکراري خدمتونو په برخه کې، د دولتي ادارو د مستقیم وړاندې کولو په پرتله یقیناً خورا ګران تمامیږي.

دا چې د وړاندې شوي محصول لوړ کیفیت د دې ارزښت لري که نه دا یوه جلا مسله ده، خو لوړ لګښت باید د قضیو په توپیر سره په پام کې ونیول شي.

په هر حال، د نه تکراري خدماتو په برخه کې لکه ښکیلو خواوو ترمنځ منځګړیتوب، د قرارداد ورکولو لګښتونه ښايي د مستقیم وړاندې کولو په پرتله لوړ نه وي، ځکه چې دولت اړ دی چې بیروکراتیک اداري حفظ کړي ترڅو د شخړو کله ناکله رامنځته کیدو ستونزې ته ورسیږي، حال دا چې نادولتي قراردادیان یوازې هغه مهال ښکیل کیدلای شي چې اړتیا ورته ولیدل شي. د دې ډیر احتمال هم شته چې قرارداد ورکول به د مستقیمې دولتي لاسوهنې په پرتله خورا اغیزناک وي: نادولتي قراردادي لوبغاړي به وکولای شي چې په اسانۍ سره وړ کارکوونکي وګماري (د لوړ معاش په وړاندیز کولو سره) ، او هر چیرته یې چې اړتیا وي، دوی په اغیزمنه توګه وکاروي.

**افغان چارواکي اړتیا لري چې د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو د شخړو د منځګړیتوب په برخه کې د نادولتي لوبغاړو او د خپلو سرچینو کارولو ترمنځ انډول رامنځته کړي ځکه چې پر بهرنیو لوبغاړو ډیره تکیه کول ښايي د دولت مشروعیت پرخلاف مخالفت وبلل شي.**

د قرار داد ورکولو سره تړلې نورې ستونزې هم شته: دولت د خدماتو په مستقیم نه وړاندې کولو سره، لږ مشروعیت ترلاسه کوي. د "افغان دولت" قراردادي خدمات او فعالیتونو په نوم هڅې، د هیڅا د غولولو نیت نلري، لرتلره ځکه چې قراردادکوونکي علاقه لري له دولت څخه ځان لیري وساتي. د دغو دلیلونو پخاطر، قرارداد ورکول د اوسني افغان حکومت په لیکو کې محبوبیت نلري. په هرحال، د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو ترمنځ په شخړو کې د اغیزناکې لاسوهنې لپاره د افغانستان د حکومت هڅو کې بیاځلي ناکامیو ته په پام سره، قرارداد ورکول ښايي له بدو ټاکنو څخه یوه ښه ټاکنه وي. افغان حکومت باید پریکړه وکړي چې لومړیتوبونه یې څه دي او چیرې غواړي خپل محدود بشري ځواک وکاروي. که چیرې د کوچیانو او ځایي خلکو ترمنځ د شخړې راکمول له دې لومړیتوبونو څخه نه وي، د شخړې پر نه مدیریت او یا هم د شخړې پر ناسم مدیریت ټینګار کول ښايي د دغو شخړو په حل کې د هغو قرارداد ورکولو په نسبت د دولت مشروعیت خورا زیات اغیزمن کړي.

**له غیر دولتي منځګړیو څخه د نادولتي موسسو او نړیوالو سازمانونو ملاتړ دا توان لري چې دوی ته اضافي سرچینې چمتو کړي ترڅو لري پرتو سیمو ته د شخړو حل په موخه لاړ شي او د دې چارې ګټه دا ده چې ښايي دغو منځګړیو ته په شخړه کې د یو بې پرې لوري په توګه وکتل شي.**

دا ملاحظات دا پوښتنه هم رامنځته کوي چې د افغانستان دولت په رسمي ډول څه او څرنګه قرارداد کولای شي. لکه څنګه چې مخکې ورته اشاره وشوه، د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو د شخړو حل قرارداد لا دمخه په چوپتیا سره او په غیر رسمي ډول غیردولتي لوبغاړو ته ورکول شوی دی. د شخړو حل غیر دولتي هڅې د ناکافي ملاتړ له ستونزې سره مخ دي،کوم چې د نادولتي مؤسسو یا نړیوالو سازمانونو لخوا چمتو کیدلای شي.

د دې ډول ملاتړ په شتون سره به غیر دولتي منځګړې وکولای شي چې لیرې پرتو سیمو ته لاړ شي، دا چاره به هغه معموله ستونزه حل کړي چې د کوچیانو او ځایي خلکو د شخړو په غیردولتي منځګړیتوب کې رامنځته شوې ده: هغه دا چې منځګړي، ځایي خلک دي او د نورو ټولو لورو لخوا د یو بې پرې لوري په سترګو ورته نه کتل کیږي.

**د حکومت قوي ملاتړ د غیر دولتي موسسو یا نړیوالو سازمانونو لپاره یو لازمي شرط دی ترڅو له هغو غیر دولتي منځګړیو ملاتړ وکړي چې دنده يې د شخړو منځګړيتوب دی**

آیا کیدای شي چې د میشتیدنې خپروني هم غیردولتي لوبغاړو ته په قرارداد ورکولو سره په خورا اغیزمنه توګه مدیریت شي؟ ځکه چې واردمخه داسې پیښې شوي چې دا خپروني د زورواکانو لخوا یرغمل شوي، دې ستونزې ته په کتو سره، د نادولتي موسسو یا نړیوالو سازمانونو لخوا د دغو خپرونو واک به بیا له بدو ټاکنو څخه یوه ښه ټاکنه وي. په دې صورت کې د دې احتمال شته چې دا راز واک به د منافع لرونکو لورو (د زورواکانو او فاسدو دولتي چارواکو په شمول) لخوا د پام وړ مقاومت لامل شي. د شخړو حل په موخه د نادولتي موسسو یا نړیوالو سازمانونو د ښکیلتیا لپاره، پیاوړي دولتي ملاتړ ته اړتیا لیدل کیږي.

**حکومت کولای شي د نورو ترڅنګ، مدني ټولنه، د عامه یا خصوصي نهادونو ځیړونکي ښکیل کړي ترڅو د کوچیانو لپاره د نویو او پرمختللو پرمختیایی نوښتونو د رامنځته کولو لپاره ځیړنې ترسره کړي**

بله هغه ساحه چیرې چې د غیر دولتي ښکیلتیا مرسته کولای شي ،پرته له دې چې خورا جنجالي وي، هغه له غوره ځیړنیزو او پرمختیایی پلانونو ملاتړ دی ترڅو د کوچیانو د میشتیدنې یا نورو لاروچارو په برخه کې مرسته وکړي چې له امله يې په لږې شخړه ییزې طریقې سره، کوچیان د افغانستان په ملي اقتصاد کې مدغم شي. کوچیانو چارو ریاست او نور دولتي ادارې به ښایي له دا راز ملاتړ څخه ګټه پورته کړي، په ځانګړې توګه که دوی د خپلو اړتیاوو او موخو په اړه د ځیړنیزو سازمانونو سره خبرې اترې کړي وي.

**د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو شخړې ته د رسیدنې په موخه، د افغان دولت لپاره ترټولو اغیزمنه لار د مدیریت رول په غاړه اخیستل او امکانات هغه ساحو ته ځانګړي کول دي چیرې چې اړتیا يې لیدل کیږي، خو دولت باید له هغو ناوړو ګټه اخیستونکو هم خبر وي چې له دې بهیره د ګټې اخیستنې په لټه کې دي.**

د افغانستان دولت ته د کوچیانو او ځایي خلکو د شخړو په مخنیوي کې د خورا رغنده ونډې لوبولو لپاره غوره فرصت دا دی چې تر ډیره بریده د غیر دولتي هڅو د مدیریت ونډه په غاړه واخلي. له تمې سره سم، افغان چارواکي ښایي او باید د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو د شخړې ستونزې ته د رسیدنې په موخه، د ځانګړې شویو مالي مرستو بهیر کنټرول کړي، مګر د دې ګواښ شته چې زورواکي او فاسد چارواکي په دې بهیر کې لاسوهنه وکړي.

ژباړونکی: سید رحمان

د خپروني کوډ: ۲۰۰۳ پ

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې په اړه

د افغانستان د ځیړنې او ارزونې اداره په کابل کې د ځیړنو یو خپلواک بنسټ دی چې په ۲۰۰۲م کال په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې له خوا جوړ شو. د افغانستان د ځیړنې او ارزونې اداری موخه د شواهدو پر بنسټ د لوړ کیفیت او په پالیسۍ پورې اړوند ځیړنو برابرول او په فعاله توګه د دغو ځیړنو د پایلو خپرول او همدارنګه د شواهدو پر بنسټ د ځیړنو او زده کړې د کلتور خپرول دي. د افغانستان د ځیړنی او ارزونی اداره دیوی غیرانتفاعی اداری په توګه د اقتصاد په وزارت کی ثبت شوی ده. د پنسیلوانیا پوهنتون د راپور پر بنسټ، د افغانستان د ځیړنې او ارزونې اداره په افغانستان کې د یو ځیړنیز بنسټ په توګه د لوړ مقام لرونکی ده او په منځنۍ آسیا کې د ځیړنیزو بنسټونو په منځ کې په دریم مقام کې ځای لري. د افغانستان د ځیړنې او ارزونې اداره د خپلې موخې د لاسته راوړلو لپاره د پالیسۍ جوړونکو، مدني ټولنو، ځیړونکو او زده کونکو سره کار کوي چې دوی د افغانستان د ځیړنې او ارزونې اداری له ځیړنو او کتابتون څخه ګټه پورته او د ځیړنې په برخه کې خپله وړتیا لوړه کړي او د نظریاتو د ځرګندولو، د شننو، او بحثونو لپاره لاره هواره کړي. د افغانستان د ځیړنې او ارزونې اداره د مشرانو د بورډ لخوا چې د مرستندویه ادارو، سفارتخانو، ملګرو ملتونو، ځینې نورو سازمانونو، مدنې ټولنو او د خپلواکو کارپوهانو استازي پکې شامل دي، اداره کیږي.

په همدې ډول، دغه اداره په برېتانیا کې د پروسپیکټ(Magazine Prospect) د مجلې د ۲۰۱۸ کال، د ډېرې ښې نړۍ واله څېړه نیزې ادارې جایزه ګټونکې شوه.

Prospect Think Tank Awards WINNER International • Social